مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۶/۱۲

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
## (اته اویایمه برخه)

### ډاکټر عبدالسمیع نور

د محمد هاشم زوی په ۱۹۳۹ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۵۸ز کال کې د حبیبیې له لیسې څخه فارغ سوی دئ، او په ۱۹۶۲ز کال کې د کابل پوهنتون اقتصاد [1] له پوهنځي څخه د لیسانس په درجې فارغ سوی دئ. په ۱۹۶۵ز کال کې ئې د ‹وندربلت› [2] له پوهنتون څخه خپله ماستري په اقتصاد کې واخیسته. له ۱۹۶۶ تر ۱۹۶۸ز کال پورې د کابل پوهنتون د اقتصاد د پوهنځي علمي غړی. په ۱۹۷۳ز کال کې ئې خپله دکتورا په جرمني کې واخیسته.

### ډاکټر نور علي

‹د هاشم جان کاکا په نوم مشهور› د محمد هاشم زوی په ۱۹۲۸ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. محمد زی دئ. زده کړې او تحصیلات ئې د استقلال په لیسې او فرانسې کې کړي دي. په کرنپوهنې [3] کې ئې دکتوار اخیستي ده. په ۱۹۶۵ز کال کې د سوداګریزو چارو وزیر. له ۱۹۷۸ز کال راهیسې په جده کې د اسلامي بانک سلاکار. د سرور ناشر ‹چې هغه مهال د مالوچو د کمپنی رئیس وو› له لور سره ئې واده کړی دئ.

### محمد اکرم نور

په ۱۹۰۶ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. زده کړې ئې د حبیبیې په لیسې کې کړې دي. په ۱۹۳۰ز کال کې د دربار په وزارت کې د پروتوکول د مدیریت مرستیال. په ۱۹۳۱ز کال کې د باندنیو چارو په وزارت کې د پرسونل مدیر. په ۱۹۳۲ز کال کې په روم کې د افغان دیپلوماتیک استازیتوب سکرتر. په ۱۹۳۶ز کال کې د شفر د مدیریت مدیر. په ۱۹۳۷ز کال کې د باندنیو چارو په وزارت کې د پروتوکول مدیر. په ۱۹۳۹ز کال کې د ملي اقتصاد د وزارت مرستیال وزیر. په ۱۹۴۳ز کال کې د شاهي دارالانشاء مرستیال منشي. په ۱۹۴۶ز کال کې په روم کې وزیر مختار. په ۱۹۴۸ز کال کې د انقرې سفیر.

---

[1] - په انګلیسي متن کې د ساینس د پوهنځي فارغ لیکل سوی دئ خو د کابل پوهنتون د اقتصاد د پوهنځي پخواني رئیس ډاکټر صاحب سید عبدالله کاظم د یوه پیام په ترڅ کې وویل چې نوموړی د اقتصاد د پوهنځي فارغ دئ نو ځکه پورتنی اصلاحیه راوړل سوه. ژ
[2] -Vanderbilt University
[3] -Agronomy


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

## نور احمـد نور (پنجوايي)

د عبدالستار زوی په ۱۹۳۷ز کال کې په کندهار کې زېږېدلی دئ؛ (عبدالستار : په قوم پوپلزی او د دولتي ځمکو مدير وو). نور احمد نور په ۱۹۵۷ز کال کې د حبيبيې له ليسې او په ۱۹۶۱ز کال کې د کابل پوهنتون د حقوقو او سياسي علومو له پوهنځي څخه په نړۍ والو اړيکو کې د ليسانس په درجې فارغ سوی دئ. په ۱۹۶۲ز کال کې د باندنيو چارو په وزارت کې په کار مقرر سو. په همدې کال د مکلفيت د دورې د احتياط په ښوونځي کې شامل سو. د افغانستان د خلق ډيموکراتيک گوند مخفي غړی. په ۱۹۶۴ز کال کې د باندنيو چارو د وزارت کې په آرشيف کې ئـې کار وکړ. په ۱۹۶۴ز کال کې ئـې د خلق د گوند په بنسټ اېښودونکې غونډې کې گډون وکړ. په ۱۹۶۵ز کال کې ئـې د باندنيو چارو په وزارت کې له خپلې دندې څخه استعفی وکړه. او په ولسي جرگې کې د پنجوايي استازی و ټاکل سو (ببرک کارمل ته ژمن). په ۱۹۶۶ز کال کې د خلق ډيموکراتيک گوند د مرکزي کميټې علی البدل غړی سو. په ۱۹۶۹ز کال کې وروسته له دې چې د ولسي جرگې په دولسمې دورې کې خدمت وکړ نوموړي بله کومه دولتي دنده تر سره نـهٔ کړه. په ۱۹۷۷ز کال کې د مرکزي کميټې د سياسي بيرو غړی او د مرکزي کمېټې د سکرتريت غړی. په ۱۹۷۸ز کال کې د انقلابي شورى غړی. په ۱۹۷۸ز کال کې د کورنيو چارو وزير سو او د ۱۹۷۸ز کال د جولای په مياشت کې د امريکا متحده ايالاتو ته د سفير په توگه ولېږل سو. د ۱۹۷۸ز کال د اکتوبر په مياشت کې له کاره برطرف سو. د حفيظ الله له پرځـېدلو وروسته د ۱۹۸۰ز کال د جنورئ د مياشتې له يولسمې وروسته يو ځل بيا د مرکزي کمېټې غړی، د انقلابي شورى غړی، او د سياسي بيرو غړی. د خلق او پرچم په جرايدو کې ئـې ليکنې کړې دي. د بارق شفيعي له لور سره ئـې وادهٔ کړی دئ او يو زوی لري. د ۱۹۸۴ز کال د جنورئ له مياشتې تر ۱۹۸۵ز کال پورې له خپلې کورنۍ سره مسکو ته لاړ. مورنۍ ژبه ئـې پښـتو ده.

## واصل نور

د حاجي رحيم الله زوی په ۱۹۴۹ز کال کې د کندز په ځُمدان کې زېږېدلی دئ. تر نهم ټولگي پورې د کندز د شير خان ښوونځي ته تللی دئ، او بيا د کابل سيد جمال الدين د ښوونکو د روزنې ښوونځي ته تبديل او په ۱۹۶۹ز کال کې ورڅخه فارغ سو. په ۱۹۷۱ز کال کې د کابل له دارالمعلمينو څخه فارغ سو او بيا د کابل پوهنتون ته لاړ چې په ۱۹۷۴ز کال کې د ادبياتو د پوهنځي د تأريخ او جغرافيې له څانگې څخه فارغ سو. له ۱۹۷۴ تر ۱۹۷۸ز کال پورې د کندز په دارالمعلمينو کې استاد. پاکستان ته لاړ او د برهان الدين رباني له جمعيت اسلامي سره ملگری سو. له ۱۹۷۸ تر ۱۹۷۹ز کال پورې د جمعيت له خوا د کندز د ولايت امير. د پېښور له پوهنتون څخه ئـې خپله ماستري د پارسي په ادبياتو کې اخيستې ده او په ۱۹۸۵ز کال کې د اريزونا د پوهنتون د انگليسي په پروگرام کې ئـې گډون وکړ.

## جلال نوراني

په ۱۹۴۹ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د اماني له ليسې څخه فارغ سوی دئ. د کابل پوهنتون د حقوقو پوهنځي ئـې لوستی دئ. په همدې کال ئـې د ببـلابـېلو مجلو لپاره ليکنې وکړې. د راډيو افغانستان لپاره ډرامې ليکي. لومړني ادبي کارونه ئـې د شپېتمې لسيزې په وروستيو کې د ترجمان په طنزيه خپرونې کې څرگندې سوې. د جلال نوراني


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

ادبي کارونه په بلغاریا او ایران کې هم چاپ سوي دي او د سرو زرو جایزه ئې وګټله. په ۱۹۷۲ز کال کې د ژوندون د مجلې کار کوونکی. د انیس د ماشومانو د څانګې مدیر.

## مـحمد ګل نوري

د عبدالواحد صاحبزاده زوی په ۱۹۰۲ز کال کې په کندهار کې زېږېدلی دئ. خصوصي زده کړې ئې په عربي کې کړې دي. په ۱۹۲۳ز کال کې د شالــمار [4] د ښوونځي ښوونکی. په ۱۹۳۴ز کال کې د کندهار د ادبي ټولني غړی. په ۱۹۳۶ز کال کې د کابل د ادبي ټولني غړی. په ۱۹۳۹ز کال کې د پښتو اکاډیمی غړی او د ژباړې او څېړوني د څانګې مدیر. په ۱۹۴۱ز کال کې د پښتو اکاډیمی رئیس. د پښتو – دري قاموس عمده ګډونوال چې په کابل کې چاپ سو. د ۱۹۵۰ز لسیزې په اوږدو کې وفات سو. [5]

## محمد ګل نوري

د پخواني پاد شاه محمد ظاهر د یاور وو زوی دئ، پلار ئې (د A.D.C مشر) او په قوم نور زی وو. محمد ګل نوري یو دیپلومات وو چې په بمبئي کې په افغان قنسلګرۍ کې ئې خدمت وکړ. په ۱۹۷۰ز کال کې ئې د عبدالله یفتلي له لور نورجان سره ئې وادهٔ وکړ. د امریکا په متحده ایالاتو کې ژوند کوي، ۱۹۸۵.

## سردار نور احمد نوري

د سردار فقیر محمد زوی په ۱۸۶۴ ز کال (۱۲۴۳ل) کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د امیر عبدالرحمن خان د واکمنۍ پر مهال د ډګرمن په رتبې وو. د امیر حبیب الله خان د واکمنۍ پر مهال د ننګرهار والي وو. په ۱۹۱۴ز کال کې د ګمرک مدیر. لیکوال، شاعر او خطاط. په ۱۹۳۵ز کال کې وفات سو.

## عبدالقدیر نورستاني

په ۱۹۴۸ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۶۰ز کال کې د حبیبیې لیسې ته تللی دئ. د کابل د پولیسو په اکاډیمۍ کې شامل سوی دئ. په انګلستان کې ئې د پولیسو روزنه ولیدله. د ترافیکو په ریاست کې مقرر سو. په ۱۹۷۳ز کال کې ئې د داؤود په کودتا کې ګډون وکړ. له ۱۹۷۳ تر ۱۹۷۵ز کال پورې د پولیسو او ژاندارم عمومي بولندوی. په ۱۹۷۵ز کال کې د کورنیو چارو وزیر. د ۱۹۷۸ز کال د اپریل د میاشتې په ۲۷ نېټې د غوایي د پاڅون په لړ کې ووژل سو.

---

[4] Shalamar School - : شاله مار/ شالي مار په اصل کې عربي لغت دئ چې د رڼا د ځای یا مسکن النور او د سپوږمۍ د رڼا یا نورالقمر په معنی دئ. د پخواني هند په لاهور کې چې اوس په پاکستان کې دئ د مغولو یو شمېر بڼونه په همدغهٔ نوم یاد سوي دي یعنې د شالیمار د بڼونو په نوم یادېږي. په سرینګر کې د هند په جمو او کشمیر کې شالیمار چې جهانګیر خپلې ملکې نورجهان ته جوړ کړ، د پاکستان په لاهور کې د شالیمار بڼونه، د هندوستان په ډهلي د شالیمار باغ. - ژ

[5] - د افغانستان نومیالي شاعر، ادیب، لیکوال او مخور شخصیت جناب عبدالباري جهاني صاحب د محمدګل نوري په هکله د یوه پیام په ترڅ کې چې د افغان جرمن آنلاین د پورتال د دریچه نظر خواهي په برخه کې رالیږلی دئ ددې اصلاحيې غوښتنه کړې ده : (محترم رحمت آریا سلامونه او احترامات. ستاسي د ګټوري رواني ترجمې په اته اویایمه برخه کې د محمدګل نوري د عبدالواحد صاحبزاده د زوی په برخه کې یوه تېروتنه سوې ده چې هغه یې د پښتو اکایمی رییس معرفي کړی دی. محمدګل نوري چې خپل ټول ژوند یې په نېستي او غریبي تېر کړ هیڅ وخت د ریاست مقام ته نه وو رسېدلی. د ډېر لږ وخت لپاره په پښتو انجمن کې مدیر اووروسته په کندهار کې په مطبوعاتو کې اجیر مامور وو. دونه غریب وو چې د کندهار په ښار کې به یې د خپلی لور په لاس جوړې کړې خولی پلورلې اویوه ګوله ډوډۍ به یې برابروله. د پښتو ژبې فوکلور ته ښایی د هغه په اندازه بل هیڅ چا زیات خدمت نه وي کړی. ما څکه خپل وروستی کتاب « د پښتو د فوکلوري نکلونو لنډ تحلیل» چې تقریباً څلور میاشتي مخکې په ۳۶۷ مخه کې چاپ سو د هغه مرحوم روح ته اهداء کړی دی چې نه یې په ژوند کې چا قدر وکړ او نه یې پسله مرګه چنداني قدر سوی دی. په ډېره درناوي. ژوندی اوجوړ اوسې. ستاسي د نورو بریاوو اود قدر وړ خدمتونو په انتظار.) ما هغه څه چې په انګلیسي متن کې ول پښتو ته ژباړلي دي او دغه اصلاحیه د جناب جهاني صاحب له نظره وروسته دلته په لمن لیک کې راوړل سوه. - ژ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

## عبدالوکیل نورستاني

نائـب سالار. د امیر عبدالرحمن خان مصاحب. د وکیل نورستاني کورنی د نورستان له کمپاین مخکي مسلمانه سوې وه. د ۱۹۱۳ز کال د جون په پینځمي نـېټي ئـي د کندهار د ګارنیزیون بولنه په غاړه واخیسته. او په ۱۹۱۶ز کال کي بـېـرته کابل ته وغوښتل سو او د ژاندارم یا د کوټوال د غنډ د بولندوی په توګه مقرر سو. امیر امان الله خان ورته د ۱۹۱۹ز کال د مارچ د میاشتي د پیل په شاوخواوو کي د برید جنرالی د رتبي ارتقاء ورکړه. د ۱۹۱۹ز کال د جون په میاشتي کي ئـي د افغان – انګلیس په دریمي جګړې کي په کونړ کي د افغان ځواکونو بولنه په بریالیتوب سره وکړه او هم ئـي په ۱۹۲۰ز کال کي په چترال کي د افغان ځواکونو بریالی بولنه وکړه. د ۱۹۲۰ز کال د سپتمبر په میاشت کي له اسمار څخه کابل ته وغوښتل سو. د ۱۹۲۰ز کال د اکتوبر په میاشت کي رسماً د جلال آباد بولندوی مقرر سو. د ۱۹۲۰ز کال د نوامبر د میاشتي په ۱۲ نـېټي بـېـرته کابل ته راستون سو. په ۱۹۲۳ز کال کي د کابل د قول اردو بولندوی سو. د ۱۹۲۵ز کال د آګست په میاشت کي د بدخشان او قطغن نائـب سالار سو. د ۱۹۲۸ز کال د بلوا پر مهال جلال آباد ته راوبلل سو. ویل کـېـږي چي د ۱۹۲۹ز کال د جنوری په میاشت کي ئـي د علي احمد خان لپاره جګړه کوله. ویل کـېـږي چي د حبیب الله کلکاني له اعدام وروسته، کله چي د کوهدامن د آرامولو لپاره په قومانده بوخت وو، ونیول سو او ووژل سو. ددهٔ په نوم یو یادګاري څلی په دهمزنګ کي جوړ سو  او له همدي لاري څخه د دارالامان سړک جلا کـېـږي.

**نور بیا**

## غلام رسول نورستاني

د کابل حربي پوهنتون ئـي لوستی دئ. ډېره موده ئـي په اردو کي...

قدرمنو لوستونکو! د ښاعلي رحمت آریا د آرشیف: لینک



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ